# میاشتنی تحلیل

## (مارچ 2022م)

## د افغانستان د وضعیت میاشتنی تحلیلي راپور




قاصد د ستراتیژیکو څېړنو مرکز

## مقدمه

دا راپور د ۲۰۲۲م کال په مارچ میاشت کې په سیاسي، اقتصادي او امنیتي ډګرونو کې د هېواد وضعیت ته ځغلنده کتنه کوي. په سیاسي اړخ کې دا میاشت هم له اسلامي امارت سره د نړیوالې ټولنې د زیاتېدونکي تعامل په برخه کې د پرمختګونو شاهدان وو، چې تر ټولو مهم هغه یې څو نړیوالې غونډې او همدا راز د څو هېوادونو له لوري د طالبانو د ډیپلوماتانو منل کېدل وو. خو په دې میاشت کې له شپږم ټولګې پورته د نجونو پر تعلیم د طالبانو له لوري د بندیز غځولو په ملي او نړیواله کچه غبرګونونه او نهیلي رامنځته کړه، چې ګومان کېږي په اوږده مهال کې پر سیاسی وضعیت پام وړ اغېزې وښندي. په اقتصادي برخه کې بیا دا میاشت د تېرو میاشتو په پرتله ښه ارزول کېدای شي؛ ځکه له یوې خوا پکې د افغانۍ ارزښت د ډالر په مقابل کې ثابت پاتې شو او له بلې خوا له تېرې میاشتې راهیسې د اقتصادي بندیزونو کمېدو هم اغېزې ښندلې وې. له امنیتي اړخه بیا دا میاشت تر ډېره ارامه وه او هېڅ کومه ستره امنیتي پېښه پکې ترسترګو نه شوه، چې ګومان کېږي یو لامل یې د طالبانو له لوري په ورمه میاشت کې په کابل او څو ولایتونو کې د چاپیزو عملیاتو ترسره کول هم وو. وړاندې په راپور کې پر دغو موضوعاتو سربېره د دې میاشتې د مهمو پېښو او موضوعاتو تفصیل او تحلیل لولئ.

# سياسي وضعيت

په مارچ مياشت کې د طالبانو له سرپرست حکومت سره د نړيوالو د تعامل او راشي درشي، ملي پخلاينې، د بشري حقونو د وضعيت او ځينو نورو برخو کې مهمې پېښې وليدل شوې. په سياسي برخه کې له ځينو مثبتو پرمختګونو سره سره، د هېواد د راتلونکي سياسي وضعيت په تړاو نهيلی او ابهامات لا هم په ټول قوت سره موجود وو، چې تر ټولو مهمه قضيه يکې د نجونو پر تعليم د بنديز غځېدا وه او له کبله يې داسې انګېرنې تقويه شوې، چې دا چاره به په ملي او نړيواله کچه د افغانستان پر سياسي وضعيت ناوړه اغېزې وښندي.

له اسلامي امارت سره د نړيوالو د تعامل په برخه کې دا مياشت په ځينو هېوادونو کې د طالبانو د ډيپلوماتانو منل کېدل، ترکيې ته د طالبانو د بهرنيو چارو وزير اميرخان متقي په مشرۍ طالب پلاوي سفر او هلته ليدنې کتنې، په چين کې د افغانستان په اړه غونډه او په اسلام آباد کې د اسلامي هېوادونو د همکارۍ سازمان غونډه د يادولو وړ پېښې وې. همدا راز له طالبانو سره د تعامل په برخه کې د ملګرو ملتونو په چلند کې هم پرمختګونه وليدل شول، چې په افغانستان کې د يوناما د ماموريت غځول يکې د يادولو وړ دي.

د مارچ په ۱۷مه د فضل محمد صابر په نوم د طالبانو ډيپلومات د ترکمنستان په پلازمېنه عشق آباد کې د افغان سفارت د سرپرست په توګه په دغه هېواد کې د اسلامي امارت د رسمي ډيپلومات په توګه وټاکل شو، چې د پېژندنې په مراسمو کې يې د ترکمنستان د بهرنيو چارو وزارت مرستيال ګډون کړی و. همدا راز په ترکيه کې افغان ډيپلوماتانو د مارچ په ۱۵مه رسنيو ته وويل، چې طالبانو په ترکيه کې هم د افغان سفارت د چارو کنټرول ترلاسه کړی. دا خبر داسې مهال خپور شو، چې د طالبانو د بهرنيو چارو سرپرست وزير اميرخان متقي ترکيې ته پر يوه رسمي سفر بوخت و او هلته يې په افغان سفارت کې ډيپلوماتانو ته

وینا هم وکړه. د دې ترڅنګ د روسیې د بهرنیو چارو وزارت هم د مارچ په ۳۱مه وویل، چې د طالبانو له لوري ګومارل شوي دیپلومات ته یې باورلیک ورکړی او په دې توګه په روسیه کې د افغانستان سفارت هم رسما طالبانو ته وسپارل شو.

د طالبانو د بهرنیو چارو وزارت سرپرست په ترکیه کې د افغانستان لپاره د امریکا له ځانګړي استازي ټام وېسټ سره هم وکتل. ټام وېسټ خپله دغه لیدنه ګټوره بللې وه او په وینا یې چې له طالب پلاوي سره یې د افغانستان د اقتصادي ودې او ثبات، پوهنې او هوایي سوداګریزو سفرونو په اړه خبري کړې دي. د دغه سفر پر مهال امیرخان متقي د انتالیا دیپلوماسۍ فورم غونډې ته وویل، چې د طالبانو اوسنی حکومت ټولشموله دی او ادعا یې وکړه چې په ټول هېواد کې هېڅ سیاسي بندي نشته. په چین کې هم د مارچ په ۳۰مه د افغانستان په هکله د دغه هېواد د ګاونډیو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو غونډه جوړه شوه، چې پکې د طالبانو د بهرنیو چارو سرپرست وزیر هم ګډون کړی و. ښاغلي متقي هلته د ایران د بهرنیو چارو له وزیر امیر عبداللهیان او د روسیې د بهرنیو چارو له وزیر سرګي لاوروف سره هم وکتل.

له بله پلوه، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې دیبورا لاینز د مارچ په ۳مه نېټه د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د راپور وړاندې کولو پر مهال وویل، چې په افغانستان کې له واکمنو چارواکو سره له کار پرته له افغانانو سره مرسته ناشونې ده. د مارچ پر ۱۸مه بیا په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت هم د یوه کال لپاره نور هم وغځول شو. دغه پرمختګونه ټول د طالبانو له حکومت سره د نړیوالې ټولنې د تعامل د پراختیا ښکارندویي کوي.

بله قضیه چې له سیاسي اړخه په تېرو څو میاشتو کې یوه له مهمو قضیااوو څخه وه، افغانستان ته د پخوانیو سیاسیونو د بیاراګرځېدو قضیه وه. د مارچ په ۱۶مه د طالبانو سرپرست حکومت وویل، چې "له افغان شخصیتونو سره د ارتباط او هېواد ته (د هغوی) د راستنولو" لپاره یې یو کمېسیون جوړ کړی. د دغه نوي کمېسیون مشري د د کانونو او پطرولیم وزارت سرپرست مولوي شهاب الدین دلاور کوي او د بهرنیو چارو وزارت سرپرست امیر خان متقي، د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست خیرالله خیرخوا، د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت سرپرست شیخ محمد خالد حنفي، لوی درستیز قاري فصیح الدین، د

استخباراتو رييس ملا عبدالحق وثيق او انس حقاني يې غړي دي. خو د دغه کميسيون د اهدافو او دندو په اړه هېڅ ډول وضاحت نه دی ورکړل شوی او نه يې هم د جوړېدو له اعلان وروسته کوم فعاليت ليدل شوی دی.

د ملي مصالحې د هڅو يو مهم اړخ د احمد مسعود او ځينو نورو پخوانيو چارواکو له لوري رهبري کېدونکې مقاومت جبهه ده، چې اوسمهال عملا ځپل شوې او ډېر ښکاره فعاليت نه لري، خو ورمه مياشت په ايران کې د اسلامي امارت او د دغې جبهې د استازو ترمنځ يوه غونډه هم وشوه. خو په دې مياشت کې د مارچ په ۲۵مه د دغې جبهې مشر احمد مسعود د نوي کال په اړه په خپل پيغام کې وويل، چې طالبانو تراوسه يوازې د تسليمېدو او بعيت کولو غوښتنه ترې کړې او له همدې کبله يې تراوسه له طالبانو سره خبرې ناکامې دي.

په بل اړخ کې په افغانستان کې د بشري حقونو وضعيت هغه قضيه ده چې تر ډېره د طالبانو د حکومت په رسميت پېژندل هم ورسره تړلې دي. په دې برخه کې دا مياشت خورا منفي پرمختګونه وليدل شول. له يوې خوا پر رسنيو د فشارونو او د ځينو رسنيو د ژورناليستانو نيولو دوام درلود، چې بېلګه يې د مارچ په ۱۸مه د طلوع نيوز تلويزيون دريو خبريالانو نيول او د مارچ په ۲۷مه د بي بي سي او اشنا تلويزيونونو پر خپرونو بنديز يادولی شو او له بلې خوا د دې مياشتې په وروستيو کې ځينو دولتي ادارو ته د ږيرې او خولۍ نه لرلو له کبله د کارمندانو نه پرېښودل کېدل هغه قضيه وه چې پراخ غبرګونونه يې وپارول.

د بشري حقونو د وضعيت په تړاو تر ټولو مهمه قضيه بيا له شپږم ټولګي پورته د نجونو پر تعليم د طالبانو د بنديز غځېدا وه، چې په ملي او نړيواله کچه يې پراخ غبرګونونه له ځان سره لرل. د مارچ په ۲۳مه چې په افغانستان کې د نوي تعليمي کال له پيل سره برابره وه، د طالبانو د حکومت له تېرو ژمنو سره سره له شپږم ټولګي پورته نجونې ښوونځيو ته پرې نښودل شوې. طالبانو د دغه بنديز غځېدا د مناسب چاپېريال رامنځته کولو لپاره د دوی د طرحې نه بشپړېدا وبلله، خو وروسته بيا تر ډېره روښانه شوه چې د طالب چارواکو ترمنځ له شپږم ټولګي پورته د نجونو د تعليم په اړه اختلاف شته دی او د چاپېريال قضيه مطرح نه ده. د بېلابېلو افغان شخصيتونو او ګوندونو په ګډون په ملي کچه او د ملګرو ملتونو په ګډون نړيوالو

ادارو او هېوادونو پر دې پرېکړه توند غبرگونونه وښودل او دا يې خورا نهيلي کوونکې پرېکړه وبلله. د امريکا او بريتانيا په گډون ځينو نورو مهمو هېوادونو خبرداری ورکړ چې دا چاره به په کور دننه او بهر د سياسي ملاتړ او مشروعيت موندلو لپاره د طالبانو پر هڅو حتمي اغېزه ولري. خو دغو غبرگونونو د طالبانو پر پرېکړه کوم اغېز ونه کړ. داسې انگېرني شته دي، چې که د نجونو پر تعليم بنديز لا نور غځېږي دا به د طالبانو د حکومت پر مشروعيت او د دوی له حکومت سره د نړيوالو پر تعامل او هم د داخلي نارضايتی پر کچه ژورې اغېزې وښندي.

# اقتصادي وضعیت

دا چې د طالبانو له واک ته رسېدو سره پر افغانستان پراخ اقتصادي بندیزونه ولګېدل، په تېرو څو میاشتو کې تر ډېره د هېواد د ناوړه اقتصادي وضعیت په اړه په پرله پسې توګه د افغانانو او نړیوالو د اندېښنو او بحثونو شاهدان وو؛ خو په ورمه میاشت کې د دغو بندیزونو له کمېدو سره اقتصادي وضعیت تر یوه بریده د ښه کېدو په لوري ولاړ، چې جوته بېلګه یې په تېره میاشت کې د ډالر په مقابل کې د افغانۍ د ارزښت ثبات دی. د مارچ میاشتې په اوږدو کې یو ډالر د شاوخوا ۸۸ افغانیو په مقابل کې تبادله کېده. که څه هم شته اقتصادي ستونزو بیا هم د لومړنیو توکو پر لوړ پاتې کېدو خپلې اغېزې ښندلې وې. د لومړنیو توکو په برخه کې بیا د تېلو او ګاز بیې تر یوه بریده د اوکراین د قضیې له کبله په افغانستان کې راښکته شوې.

په دې میاشت کې که څه هم د اقتصادي وضعیت په پرتله سیاسي قضیو د افغانستان اړوند بحثونه ګرم کړي وو، خو په اقتصادي ډګر کې هم ځینې د یادولو وړ پېښې او پرمختګونه ولیدل شول. د مارچ په ۲مه نېټه د نړیوال بانک اجراییوي بورډ له افغانستان سره د مرستې په پار د نژدې یو میلیارد ډالرو مرسته رسماً تصویب کړه؛ خو د دغې میاشتې په ۳۰مه نېټه بیا د نجونو پر ښوونځیو د بندیز غځېدا د دې لامل شوه چې نړیوال بانک په افغانستان کې د ۶۰۰ ملیونه ډالرو په ارزښت خپلې څلور پروژې وځنډوي.

له بلې خوا په دې میاشت کې د طالبانو حکومت د ځینو بنسټیزو اقتصادي پروژو په برخه کې هم ګام اوچت کړ. په دې تړاو د افغانستان په شمال کې د قوش تېپې په نوم ستر کانال د جوړولو چارې پیل شوې. دغه کانال د بلخ له کلدار ولسوالۍ پیلېږي او د جوزجان له لارې د فاریاب اندخوی ولسوالۍ ته رسېږي. د دې کانال اوږدوالی ۲۸۵ کیلومتره ښودل شوی او ویل کېږي چې لسګونه زره جریبه ځمکه به خړوبوي. پر دې کانال نژدې ۶۰ میلیارد افغانۍ لګښت راځي، چې د چارواکو په وینا له ملي عوایدو څخه به ورکړل شي. همدا راز د کانونو د استخراج په برخه کې هم ځینې ګامونه واخیستل شول. د مارچ په

۳مه د کانونو او پطرولیم وزرات چارواکو وویل، چې چین د افغانستان په کانونو کې پانګونې ته لېوالتیا ښودلې او دا چې د دواړو لوریو غوښتنې یوه بل ته د منلو دي.

له افغانستان سره بشري مرستې هم د تېرو میاشتو په څېر رواني وې او په بېلابېلو ولایتونو کې یې د وېشلو لړۍ دا میاشت هم روانه وه. د مارچ په شلمه نېټه د نړیوالو بشرپالو مرستو نولسمه ۳۲ ملیون ډالري بسته کابل ته راورسېده او د افغانستان بین المللي بانک (AIB) ته تسلیم شوه.

له دې ټولو سره، بیا هم د افغانستان د اقتصادي بحران په اړه اندېښنې لا هم موجودې وې. د بېلګې په توګه د مارچ په ۳۱مه د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوتېرېش وویل، چې افغانان له لوږې "خپل ماشومان پلوري او ان د خپل بدن غړي خرڅوي." ښاغلي ګوتېرېش دا خرګندونې د افغانستان لپاره د مرستو ټولولو کنفرانس ته په خبرو کې کولې، چې د افغانستان لپاره د نړیوالو مرستو د راټولولو په موخه په جینېوا کې جوړ شوی و.

# امنیتي وضعیت

مارچ میاشت د تېرو میاشتو په پرتله له امنیتي پلوه تر یوه بریده ارامه وه او کومهستره امنیتي پېښه پکې ونه لیدل شوه. داسې انګېرنې موجودې وې، چې په فبروي میاشت کې د اسلامي امارت له لوري په ځو ولایتونو کې د چاڼیزو عملیاتو پیل پر امنیتي وضعیت مثبتې اغېزې ښندلې وې.

په ورته وخت کې بیا داسې راپورونه هم وو، چې د هېواد په ځینو سیمو کې امنیتي پېښې شته دي، خو په پراخه کچه سانسور کېږي او خبرونه یې نه خپرېږي. له دې سره سره، د ځینو امنیتي پېښو خبرونه هم خپاره شول. د بېلګې په توګه د مارچ په ۴مه د پکتیا ولایت په ډنډ پټان ولسوالۍ کې د یوه جومات مخ ته چاودنه وشوه، چې د راپورونو له مخې ۳ تنه پکې ووژل شول او شاوخوا ۲۰ نور پکې ټپیان شول.

د طالبانو له واکمنېدو سره د افغانستان د امنیتي وضعیت په تړاو تر ټولو ستره اندېښنه د داعش ډلې د فعالیت او بریدونو په اړه وه، چې په لومړیو میاشتو کې یې څو خونړي بریدونه هم وکړل او په ځانګړې توګه په ځینو ولایتونو کې د شیعه مذهبو پر جوماتونو خونړیو ډله ییزو بریدونو په ملي او نړیواله کچه توجه جلب کړه او داسې انګېرنې زیاتې شوې، چې طالبان به ونه توانېږي د داعش ډلې د ګوریلایي جګړې مخنیوی وکړي. له کابو اتو میاشتو وروسته اوس بیا داسې ښکاري چې طالبان د داعش ډلې په ځپلو کې بریالي وو. همدا لامل دی چې د مارچ په ۱۰مه د داعش ډلې د خراسان څانګې یوه پخواني مشر عبدالرحیم مسلم دوست، چې تازه له طالبانو سره یوځای شوی، ادعا وکړه چې په افغانستان کې د داعش جنګیالیو شمېر کم او دا ډله کمزورې شوې ده. عملا هم له تېرې نومبر میاشتې راهیسې د داعش ډلې کوم ډله ییز یا خونړی برید نه دی لیدل شوی.

په بل اړخ کې تازه د مارچ په ۳۱مه سیګار په خپل راپور کې ویلي، چې د طالبانو له راتګ سره د زندانونو د دروازو پرانیستل کېدو له کبله سلګونه داعش جنګیالي له زندانونو وتلي او دا ډله یې پیاوړې کړې ده. د

مارچ په ۸مه نېټه د ملګرو ملتونو سازمان هم په یوه تازه راپور کې وویل، چې د طالبانو له واکمنېدو راهیسې ۴۰۰ ولسي افغانان وژل شوي او ګڼ شمېر نور ټپیان شوي دي. د ملګرو ملتونو په دغه راپور کې ویل شوي، چې د نژدې ۴۰۰ ولسي خلکو د وژنې اتیا سلنه یې د اسلامي دولت یا داعش نومې ډلې له لوري شوې، هغه څه چې د واکمنو طالبانو لپاره یوه لویه ننګونه یادېدلی شي. په چین کې د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو په غونډه کې هم د ایران د بهرنیو چارو وزیر د داعش ډلې تهدید د اندېښنې وړ وباله او له دې ډلې سره د مبارزې د یوه نوي میکانیزم رامنځته کولو غوښتنه یې وکړه.

د امنیتي وضعیت بل اړخ هغه مرموزې وژنې دي، چې ګومان کېږي د طالبانو له لوري د غچ اخیستونکو بریدونو په توګه ترسره کېږي. د دا ډول وژنو پېښې په تېرو څو میاشتو کې زیاتې ثبت شوې دي، چې عمدتا یکې د پخواني حکومت منسوبین له منځه وړل کېږي، خو د اسلامي امارت چارواکو له یوې خوا غچ اخیستونکي بریدونه تل رد کړي خو له بلې خوا یې خپلو جنګیالیو ته داسې توصیې هم کړې چې له غچ اخیستونکو بریدونو دې لاس واخلي.

په ټوله کې داسې انګېرنې شته دي، چې که طالبان په اوسني ډول د خپل واک چلولو ته دوام ورکړي او د سیاسي مخالفتونو په له منځه وړلو کې بریالي نه شي، ممکن په نژدې راتلونکي کې وسله وال خوځښتونه ورو ورو زیات شي، ځکه اوس هم نژدې هره میاشت یوه نه یوه وسله واله مخالفه جبهه په نمایشي ډول د موجودیت اعلان کوي.

پای